ژباړه: دوکتور محمد اکبر یوسفی ۲۰۱۲/۰۹/۰۹

# افغانستان د خپل خپلواکی پراختیا په لمړی پړاو کښی! (۱۹۱۹ ـ ۱۹۲۹)

څیړونکی: «ویکتور کورګون» (Viktor Korgun)
د تاریخی علومو کاندید.

## څلورمه برخه

**یادونه**: د افغانستان د خپلواکی د دری نویم کال په ورځو کښی د ډیرو افغانی لیکوالانو له خوا څخه لیکنی وسوی، او د لمانځنی په ترڅ کښی داسی یادونی هم لیدل سوی، چه ګواکی د پوهی او په تیره بیا د تاریخ په برخه کښی هم، یو ډول «انحصار» او یا د پخوانی پاچاهی نظامونو په شان، «میراثی» حقوق وجود ولری. د استقلال لمانځنه، نه د یوه سړی او یا د یوه ګروپ وظیفه ده، بلکه د بشریت او په تیره بیا د دی منطقی بریالیتوب وو، چه د اجتماعی ودی په لړ کښی، د زاړه استعمار کړی ماته سوه، **او افغانان په لمړی صف کښی دریدلی وه**، او د خپلو نورو دوستانو، د حمایت څخه هم بهرمند وه. ځینی حتی داسی مفاهیم یاد کړی، لکه چه د لمړی تولید کوم مخترع په ډول، د لمړی حقوق خاوند وی او دهغو کلماتو د استعمال د نورو له خوا څخه باید، د دوی څخه د اجازی اخستل ضرور وی. د تعجب وړ ده چه حتی ځینی لیکوالان، په دولتونو کښی د «سری اسنادو» په مفهوم ندی پوهیدلی. جالبه خو داده، چه ځینی د یوه «امپریالیستی» لیکوال د اسنادو څخه «نقل قول» مجاز نه بولی، اما که چیری د هغه قدرت د «سری» سند څخه (معلومه نده، چه «سری» اسناد یی به څنګه تر لاسه کړی وی)، پخپله «اقتباس» کړی وی نو د ځان د پاره لوی افتخار بولی، او داسی لیکنو ته یی باید، هرڅوک تسلیم سی. د یوه سند، د «سریت» مفهوم په څښی کی ده، چه علنی سوی وی. د داسی «تاریخ پوهان» او «سند» پیژندونکو څخه می دی خدای وساتی.

په اوسنی دنیا کښی ډیری آزادی ترلاسه سوی، او دپوهی د زدکړی پراخ امکانات موجود دی. مخ کښی تر دی چه کوم وخت، د نورو وطنوالو په شان، خپل ځینی څیړنی، ګران وطنوال او لوستونکو ته وړاندی کړم، نو په ډاګه وایم چه د مسلکی تاریخ لیکونکو او د حقوقو په برخه کښی د صادق او د عدالت د پلویانو، په پر مخ تللی هیوادونو کښی، چیری چه علمی څیړنی او د حقوقی نظام نفوذ او قدرت قوی دی، نو د دوی موقف هم یو بل ته سره ډیر نږدیوالی لری، دا پدی معنی چه د داسی «مُدرن» هیواد، قاضی د قانون پر بنسټ عادلانه قضاوت کوی، او تاریخ لیکونکی هم، هغه څه لیکی، چه وینی او حقیقت ته نږدی، دمعتبرو اسنادو پر اساس، قضاوت کوی، هیڅکله ښه ته بد نه وایی او بد ته هم ښه نه وایی. او همدا رنګه متمایل ندی، چه د یوی مرحلی په باب د حقیقت څخه مغایر کیفیت و لیکی. هر څوک حق لری چه د خپلی ټولنی، پر افتخاراتو باندی و نازیږی. اما دا شهامت هم باید ولری چه هم د ځان او یا د هر با عزت شخصیت د کړنو پر مثبت او منفی اړخونو باندی عادلانه و بېغیږدای سی. انسان او دهغه ژوند، باید د ټل د پاره په ټولنیز ژوند کښی د یوه مرکزی موضوع په ډول تر پاملرنی لاندی وی.

د بلی خوا، تر څه حده پوری چه می د پوهانو څخه اوریدلی، په علمی او تحقیقاتی څیړنوکښی د یوه محقق حق دی، چه د چا او یا د کومو منابعو څخه «نقل قول» کوی. دا هم مقید ندی، چه د نظر خاوند باید څوک وی، د کوم نظام، د کوم نژاد، د کوم مذهب او یا د کومی قاری څخه وی. د نظر خاوند که سپین وی، که تور وی او یا که ژیړ، فقط انسان وی. نو هر څوک باید زده کړی چه د انسان نظر تر مطالعی او تحلیل لاندی ونیولای سی، نه شخص. په بل عبارت، سړی لزوماً باید توجه وکړی، چه پر کومی موضوع باندی خبری کوی او د کوم علمی ذخیری خاوند دی او یا تسلط پکښی لری. مهمه دا ده چه، څه مطلب مطرح کیږی. لنډه دا چه، د یوی نظریی رد یا تأ یید اصلاً باید، پر موضوع باندی ولاړ وی نه پر افرادو باندی. د اوسنی ځینی لیکنی او ادعاګانی، دی ته و هڅولم چه که ممکن وی ځینی تاریخی منابعو پسی وګورم. د پلټنی په ترڅ کي می د یوه تاریخپوه، څیړل سوی اثر و موند. دا موندل سوی اثر د «جرمنی» یا «آلمانی» په ژبه هم چاپ سوی چه زما لاس ته رسیدلی. سمدلاسه می تصمیم و نیو چه د همدی ژبی څخه، د خپل توان په کچه خپل ګرانو وطنوالو ته یی ژباړه وړاندی کوم.



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

« ددی ریفرم ځخه، د قومی «فیودال ارستوکراسی» په ډیر شدت سره متأثره وه. د قبایلو خانان، چه پخوا تر دی، د امیرد یواځینی نماینده په توګه، په ولایتوکښی فعال وه، اود مالیاتو ټولول یی په خپل لاس کی درلودل، د ځوان افغانانو د حکومت په وخت کی، د حکومتی مأمورینو تر کنترول لاندی راغلل، چه هم یی د اقتصادی او هم سیاسی موقف ځخه متضرر و ګرځیدل. بر سیره پردی، د امان الله حکومت، پر هغو قبایلو باندی مالیه و تړله، چه یا یی پخوا تر دی مالیه نه ورکوله او یا یی مالیه ټیټه وه.
د اصلاحات او یا «ریفرم» سیاست، د مذهبی او یا روحانی رهبرانو ته هم د سیاسی نفوذ په برخه کښی تاوان و رساوه. زیات اقتصادی او سیاسی پریکړی – د مساجدو د مځکو استملاک، یعنی په دولتی ملکیت بدلیدل، د محکمو نوی قوانین، «سیکولاریزیشن» او یا دینویوی کول، د خلګو تعلیم او تربیه، د مذهبونو برابر حقوق اعلانول، د ژوندانه د طریقی اصلاحات او «ریفرم»، د ملایانو د تعلیم تجدید او تکمیلول، د روحانی رهبرانو د شدید نا رضایتی سبب و ګرځید، چه د«فیودالانو» سره ددوی د یوځای کیدلو سبب پیژندل سوی، او پدی ډول، د حکومت پر ضد د مخالفینواو یا د «اپوزیشن» هسته جوړه سوه.

هغه ځه چه د ټولنی په تولیدی برخی پوری تړلی وه، لکه – بزګران، د ځاروی د روزلو خواریکش مسکینان او همدا رنګه کسب کار ه برخه – د ځوان افغانانو سیاست، په کلی توګه د دوی، اقتصادی ژوند او وضعیت یی د خرابیدو خوا ته و شړله، که ځه هم «ریفرمونه»، په عینی توګه د «فیودالانو» ظلم او جبر یی کم کړی وه. ( د ډیرو اضافی مالیاتو لغو او د محصولاتو جبری تحویلی لیری کول، د غلامی او یا مریتوب لغواو د مذهبونو مساوی حقوق د نورو په جمله کښی.)

د «ا. الکسیینکوفس» (A. Alexejenkows) د ویلو پر بنسټ، بزګران مجبور سوی وه، چه تر ٪۴۵ (۴۵ په سلوکی)، د خپل حاصلاتو ځخه، د مځکی د مالییی په توګه تسلیم کړی. سربیره پردی، دوی همدارنګه مجبور کړل سوی وه چه د امان الله د خارج د سفر لګښت تر ټولو لویه برخه، په غاړه واخلی. (۸)

د مالیاتو ارزونی د پیسوپه ډول، تر داسی شرایطو لاندی، چه د کرهنی د اقتصاد، نیمایی برخه، پر طبیعی (Natural)، (یعنی جنسی تبادلی: ژباړونکی) ولاړ وه، او د «مارکیټ» یا بازار ځخه شکیدلی وه، هغو بزګرو چه پیسو ته اړتیا درلوده، د سودخوارو او محتکرینو لاس ته ور لویدل، چه په نتیجه کی د بزګرو د مځکو د خاوندیتوب سلب او یا دلاسه ورکول، په تیره بیا د اقلیتونو په سیمو کی، ګړندی کړل سوی وه. د دولت د مځکو د پلورلو قانون، په عمل کی د لویو مځکو خاوندانو په ګټه تحقق و موند. بزګران په اکثریت کچه و نسو کولای چه مځکی رانیسی.

پاتی نور «ریفورمونه» او اصلاحات، یا په مستقیمه توګه د بزګرو سره کومی اړیکی نه درلودی او یا د دوی د خاص وضعیت په نسبت، په نږدی راتلونکو کی کومه اغیزه نه سوای درلودلای. په همدی دلیل، د بزګرو له خوا کومه علاقه د هغوی د تحقق په باب نه ښودل کیده. پدی توګه، د ټولنیز تر ټولو مهم قشرونه د حاکم رژیم په مقابل کی منفی «رول» و لوباوه.

په نتیجه کی د ځوان افغانانو رژیم د ټولنی د اړیکو له لوری ګوښه او تجرید سوی حالت سره مخامخ سو. سربیره پر دی، د ا چه دوی د خلګو د پرګنو اساسی غوښتنو ته پام و نکړه، دبزګرو د ډیرو نابرو قیامونو سره مخامخ سول، ارتجاع د هغه ځخه کار واخیست.

د پورتنی یاد شوی قیام په خوست کی، ددولتی «ریفرم» مانی چه پرته له دی هم ریږدیدل، لا پسی په ریږدو را وستله. ناقراری په هیواد کښی دوام و موند، د پښتنو د د سیمی ځخه لمن نورو سیمو ته و غځیدله او د کثیرالمله «کرکټر» او خصوصیت یی ځانته ونیوله. د ۱۹۲۵م کال ځخه تر ۱۹۲۷م کال پوری، د بزګرو یو لړ د اعتراضونو موجونه، پیښ سوی وه.

مګر د بعد او قوت په لحاظ، توپیر درلود. پدی معنی چه د حکومت د مالیاتی سیاست او د دولتی مسؤلینو د سوی استفادی او د هغوی د زجر ورکونی پرضد، په توپیر سره صورت موندلی وه. «باندیتیزم»، غلا او وسلوال عملونه مسلط وه. دا خپله یو عینی مثال د بزګری نا ببرو اعتراضونو د نمونی ښکارندوی شمیرل کیدای سی، چه د محلی اداری حرص هم د دوی د مأیوسی سبب ګرځیدلی وه.

په۱۹۲۶م کال کښی، د همدی ډلو په سر کی تاجک بزګر، د سقاو زوی (Batscha-i Sakao)، ولاړ وو. د ۱۹۲۸م کال، د منی په میاشتو کښی، ددی ډلی، شمیر ۸۰ کسو ته رسیدل، او د کابل په شمال کښی اثر درلود. دا ګروپ غلاوی کولی اوهم ډیر منفور دولتی مأمورین یی وژل. دغلا د اموالو یوه برخه به د سقاو زوی بزګرو ته ورکاوه. شهرت یی د محلی خلګو په مینځ کښی به ورځ په ورځ زیاتیده. د ۱۹۲۸م کال ددوبی په فصل کښی، دده وسلواله


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ډله، د قدرت پر محلی نماینده باندی هم یرغل وکړ. البته نه یوازی د کابل خلګ د نا رضایتی او تریخوالی حالت سره مخامخ وه، بلکه د ۱۹۲۷م کال را پدی خوا د هیواد په نورو سیمو کښی هم همدا ډول وسلوالی ډلی جوړی وی وی. د ۱۹۲۸م کال د «نومبر» په میاشت کښی ، یوه وړوکی نظامی ډله، د کابل والی، علی احمد خان تر مشری لاندی، کوهدامن ته واستول سوه، چه د جلب او احضار په مرسته دا نا آرامی و ځپی. د لاری په اوږدو کښی د یوی وسلوالی ډلی د خوا څخه تر برید لاندی راغی، جه د کوهدامن د حاکم، شیرجان تر قوماندی لاندی عمل کاوه. پدی برید کی ۱۶ عسکر مړه او ټپیان سول. دایوه ښکاره هڅونه د حکومت پر ضد و بلل سوه. په هند کی یو مشهور روحانی، شیر آقا مجددی ، چه د قومونو په سیمه کی د مهاجرت شپی تیرولی، د امان الله پر خلاف یې کلک تبلیغات پیل کړی وه.

د ۱۹۲۸م کال د «اکتوبر» د میاشتی به نیمایی کی، د قومونو یو پاڅون په شرقی ولایت کښی پیل سو. علت یی یو ټکر وو چه د شنواری قوم او د سلیمانخیلود کوچیانو د قبیلی تر مینځ پیښ سوی وو. کوچیان د غلځیو (غلزیو) په قوم پوری تړلی دی، چه د «نومبر» په میاشت کښی د هند په لور خوځیدل. پدی ټکر چه د اچین (Achin) کلی په سیمه کښی پیښ سوی وو، یو زیات شمیر کسان، د «زنګهوخیل» (Sanghu - Khel)، چه د شنواری په قوم پوری تړلی وه ووژل سول. محلی ځواکونه کوچیان بندیان کړل. مګردوی وکولای سول،چه حاکم (د شایعو د مخی د رشوت په ورکولو)، د دوی په بیګناهی قانع کړی، او د بند څخه دوی خوشی کړای سی. د شنواری د قوم د خوا څخه له دی نا رضایتیوپه سبب یو پاڅون، را و خوځید.

د «نومبر» په ۱۵ - مه نیټه محلي اداره یی ویجاړه کړه او د محکمی او د لمړی ښونځی تعمیرونه یی و سیځل. یوه وسلواله ډله پر «ګارنیزیون» باندی هم برید وکړ، خو د عسکرو له خوا منفجرکړای سو. وروسته ترهغی، شنواری د داکا (Dakka) «ښارګوټی» ته ولاړل، او هڅه یی وکړل چه پر «ګارنیزیون» با ندی برید وکړی. مګر دا برید هم په شا و ټمبول سو. د ختیځ ولایت حاکم، قواوی د ټولو قومونو د قوتونو څخه په اختیار کی درلود. د ولایت په مرکز جلال آباد کښی، د ښار د شا او خوا د قومونو اوسیدونکی لکه د خوګانی، لغمان، او یو شمیر شنواری ټبرونه،را ټول سول. د جنګ وزارت د کابل د قواو ډلګی د تیاری په حال کی راوستل، تر څو د ضرورت په وخت کی ددی پاڅون د ځپلو د پاره ، په کار واچوی. په عین حال کښی، د جلال آباد د «ګارنیزیون» قومندانی، د پاڅون غوښتونکو ته یو وړاندیزنشر کړ، او پکښی ددوی څخه و غوښتل، چه د مقاومت څخه لاس واخلی، او که نه دوی به د توپخانی او الوتکو څخه کار واخلی.

د پاڅون هدفونه او وظیفی په یوه اعلامیه کښی، چه د دوی رهبران، لکه محمد علم او محمد افضل، د شنواری روحانی رهبرانو د خوا څخه لیکل سوی وه، نشر ته و سپارل سوه. په اعلامیه کی راغلی وه، چه پاڅونوال په هیواد کی د اداری بدلون او درحکمرانانو نسکورول غوښتل، کوم چه په فساد کښی ډوب دی، او همداسی قوانین دوی تصویب کړی، چه د شرعیت سره په تضاد کی دی. په اعلامیه کښی داهم ویل سوی وه، هغه سیمی چه د پاڅون کوونکو په قبضه کی راغلی، د شریعت د قوانینو،سره سم اداره کوی، او د دوی حقیقی اداره کوونکی، به علما وی.

د پاڅون دلیل یی، څنګه چه د اعلامیی لیکونکی ویل « د کفر د ریفرمونو» پر خلاف، په خاصه توګه، د ټولنیز او ژوندانه د طریقی په باب نوی پریکړی، یاد کړی وه. مګر ددی لیکونکی د اصلی دلیل د لیکلو څخه ډډه کړی وه، چه د ختیځ ولایت د قومونو، مسکین ترین قشرونه، چه د ځوان افغانانو د حکومت پر ضد د دریدو دپاره جبراً وهڅول: د مالی بار،پر بزګرو باندی د مأمورینو د بی توجهی فشار. په همدی اعلامیه کښی همدا رنګه د «بی دین» پاچا د پرزیدو غوښتنه درلودل، او ادعا کوله چه ددی هدف سره د افغانستان د نورو سیمو خلګ هم، هم نظر دی.

د «نومبر» په پای کی، دا پاڅون د یو تهدید څخه ډک حالت ته ورسید. دوی د ښار د شا و خوا سیمی تر خپل «کنترول» لاندی راوستولی وه. شاهی ماڼی، هوایی ډګر، الوتکی او وسیلی، ځینی هم شخصی کورونو ته اور واچاوه. مګر « مارش» دجلال آباد په لور سر ته و نه رسید، پاڅون والاو د ښار په محاصری لاس پوری کړ. د نظامی اقداماتو په څنګ کی، حکومت د اختلاف د حلیدو دپاره د صلحی غوښتونکی قدمونه هم واخستل. د پاڅون کوونکو قومونو د استوګنی په سیمو کی، د الوتکو څخه چاپی پاڼی و شیندلی، چه پکښی د دی پاڅون علتونه او دلایل تشریح سوی وه، چه دا عمل یواځی دافغانستان د دښمنانو په ګټه وه. د «نومبر» په پای کښی داخله وزیر غلام صدیق خان، ختیځ ولایت ته د پاڅون کوونکو سره د خبرو د پاره ورغی.

د «دسمبر» په نهمه «نیټه»، د پاڅون برخوالو قومونو او دهییت تر مینځ، چه د غلام صدیق خان تر مشری لاندی استول سوی وو،یوه ۱۰ – ورځنی اوربند سره موافقه وسوه. څو ورځی وروسته د قومونو جرګه په جلال آباد کی د حکومت د هییت په برخه درلودلو سره ، جوړه سوه. پاڅون کوونکو هڅی و کړی چه هلته، د امان الله او د هغه د پلویانو په مقابل کی، یوی واحدی موضعګیری ته ورسیږی. مګر دا ناسته بیله نتیجی څخه پای ته ورسیده، پدی علت چه د حکومت د «ریفرمونو» په اړه، موضعګیری د ډیرو مخالفتونو سره مخامخ سول. د قومونو خانان په ډیر


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

صراحت سره، د ټولنیز او «کلتوری ریفرم» سره مخالفت و ښودل. او د قومونو ساده او عادی نمایندګان، چه په جرګه کی اقلیت تشکیل کړی وه، د مالیات یېرخی د مسوولینو پر خلاف نا راضی ښودلی وه.

حکومت و نسو کړای چه د رهبرانو نا آرامی د مینځه یوسی. د اوربند څخه وروسته، په جلال آباد کی جګړه له سره پیل سوه. پاڅون والو د ختیځ ولایت مرکز په محاصره و نیوله.

په همدی کړکیچنو شرایطو کی، د سقاو زوی د وسلوالی ډلی په سر کی، د کابل په خوا کی پیشروی وکړه. د ۱۹۲۸م میلادی کال کښی د «دسمبر» د۱۲ـ می نیټی په شپه، په خپل استوګنځی کلکان کلی کی، خپل پلویان یی یوی مشورتی غونډی ته را بللی وو. او ځان یی د امیرپه توګه، د حبیب الله غازی په نامه اعلان کړ. ارتجاعی «فیودالان» او اسلامی روحانیون چه دده په شهرت پوهیدل، د هغه په پلوی ودریدل، پدی هیله چه رهبری په خپل لس کی راولی.

د کابل ولایت په شمال کی، د «ریفرم» ضد حرکت په مرکز بدل سو. همدا رنګه د افغانستان نوری سیمی ( په خاص ډول قطغن، بلخ، میمنه او هرات) هم د حکومت ضد اغتشاش سره لاس او ګریوان وه.

د «دسمبر» په ۱۲ – مه نیټه، د سقاو زوی پر سرای خوجه ښارګی باندی برید و کړ، او د هغه ځای «ګارنیزیون» یی د تسلیمیدو د پاره تر فشار لاندی و نیو. په همهغه ورځ یی، یوه وسلواله ډله د سید حسین تر قومندی لاندی د جبل السراج په لور واستاوه. ددی ښار ۹۰۰ کسیز «ګارنیزیون» بیله مقاومت څخه تسلیم سول. د سقاو زوی په خپله د کابل د نیولو د پاره ځان مسلح کاوه.

دڅلورمی برخی پای
دوام لری


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ